# افغانستان په یوه نظر



میر غلام محمد غبار
ژباړه او لمنلیکونه: جاوید آفتاب

افغانستان په یوه نظر

میر غلام محمد غبار | ژباړه او لمنلیکونه: جاوید آفتاب

# Afghanistan at a Glance

Author: Mir Ghulam Mohammad Ghubar
Translated By: Javed Aftab

ISBN 978-9936-661-98-1

2023

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د ژباړې مرکز

# افغانستان په یوه نظر

میر غلام محمد غبار

ژباړه او لمنلیکونه: جاوید آفتاب

**د کتاب ځانګړنې:**

---

**د کتاب نوم:** افغانستان په یوه نظر

**لیکوال**: میر غلام محمد غبار

**ژباړه او لمنلیکونه:** جاوید آفتاب

**ایډیټ، اهتمام او تعلیقات:** څېړنپوه دکتور محمد شریف ځدران

**د چاپ کال:** ۱٤۰۲ل / ۱۴۴۵ هـ ق

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ ځای:** بهیر مطبعه

ISBN : ۱- ۹۸- ٦٦۱- ۹۹۳٦- ۹۷۸

---

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

---

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخگڼه**


د ژباړې مرکز یادښت ........................ ۱
پر کتاب تبصره ........................ ۳
د ژباړن خبرې ........................ ۷
**لومړی څپرکی ........................ ۱۱**
آریانا ........................ ۱۱
د افغانستان پخوانی نوم........................ ۱۱
آریایان........................ ۱۲
آریانم وائیگو ........................ ۱۲
آریایان په آریانا کې ........................ ۱۲
بخدي؛ د لوړو بیرغونو ښار ........................ ۱۳
په آریانا کې د آریایانو د تگ راتگ لاره ........................ ۱۳
هند، ماد او فارس ته د آریایانو مهاجرت ........................ ۱۵
په آریانا کې د آریایي تمدن تمرکز ........................ ۱۷
د آریانا ویدي مدنیت........................ ۲۰
ټولنیز ژوند ........................ ۲۲
حکومت ........................ ۲۳
جرگې ........................ ۲٤
ودونه ........................ ۲۵
د ښځې مقام ........................ ۲٦
لوبې او سپورت ........................ ۲۷

وسلې او جګړې ........................................................ ۲۷
لباس ............................................................... ۲۸
کرنه او مالداري ..................................................... ۲۸
صنعت ............................................................... ۲۹
خواړه ............................................................... ۲۹
عقیده ............................................................... ۲۹
ژبه ................................................................. ۳۱
اوېستايي مدنيت ..................................................... ۳۲
ټولنيزې طبقې ........................................................ ۳۲
روغتيا او د بدن ښکلا ................................................. ۳۳
واده ................................................................ ۳۳
د کرنې پرمختګ ....................................................... ۳٤
جنګ او جنګي توکي ................................................... ۳٤
ژبــه ................................................................ ۳۵
د بخدي آريايي دولت تشکيل: پاراداتيان، کاويانيان او اسپه‌يان.............. ۳٦
پاراداتيان ........................................................... ۳٦
کاويانيان ............................................................ ۳۹
د اسپه کورنۍ يا اسپه‌يان .............................................. ٤۱
زردشت او اوېستا ...................................................... ٤٤
اوېستا او د هغه پېر سياسي جغرافيه .................................... ٤۸
آشوريان او آريانا ...................................................... ٤۹
هخامنشي فارسيان او آريانا ............................................. ۵۲
د هخامنشيانو د عسکري برلاسه کېدو په پېر کې د آريانا... .................. ۵۵

سکندر او آریانا – د آریایانو ملي غورځنګونه او مقابلې – بسوس او سپیتامن . ٥٦
د نکاتور او موریانو تر منځ د آریانا وېش ............................................ ٦٤
د باختر ملي غورځنګ او د آریایي (یونان - باختري) دولت جوړول ........... ٦٨
ټولنیز او کلتوري ژوند............................................................... ٧٤
دین................................................................................ ٧٥
صنعت............................................................................. ٧٦
د راکړې ورکړې یا سوداګرۍ طریقه.............................................. ٧٦
ژبه او لیک ....................................................................... ٧٧
وسله او پوځ ...................................................................... ٧٧
موسیقي او ننداره ................................................................ ٧٨
د پارت دولت په اړه څو خبرې ................................................... ٧٨
سکایان (ساکان).................................................................. ٨١
پهلوایان ........................................................................... ٨٥
یوچیان ............................................................................ ٨٧
د کوشاني دولت جوړول .......................................................... ٨٨
واسیشکا – Vasishka ............................................................. ٩١
دویم کنشکا ....................................................................... ٩١
هوویشکا .......................................................................... ٩١
واسودوا – Vasudlva............................................................... ٩٢
کوشاني مدنیت ................................................................... ٩٣
په کوشاني دوره کې د آریانا سوداګري............................................. ٩٣
د کوشاني دورې ژبه او لیکدود ................................................... ٩٤
دین................................................................................ ٩٥

په چین او لرو ختیځو سیمو کې د آریایانو له خوا د بودایي مذهب خپرول... ۹۶
د ګریکو بودیک د فن عروج ........................................ ۹۸
واړه کوشانیان یا کیداریان ........................................ ۱۰۰
د افغانستان یفتلي دولت........................................ ۱۰۳
افتالیتو........................................ ۱۰۵
اخشنور........................................ ۱۰۵
تورامانا ........................................ ۱۰۸
مهیراکولا........................................ ۱۰۹
په افغانستان کې ملوک الطوایفي او د پردو نفوذ ........................................ ۱۰۹
په افغانستان کې د غربي تورکانو او ساسانیانو نفوذ........................................ ۱۱۰
د کابلستان دولت ........................................ ۱۱۲
د کابل شاهانو دولت ........................................ ۱۱۳
د چین دولت نفوذ........................................ ۱۱۵
د افغانستان ټولنیز وضعیت ........................................ ۱۱۷
**دویــم څــپرکی........................................ ۱۱۹**
خراسان ........................................ ۱۱۹
د اسلام له ظهور سره همزمان د خراسان وضعیت ........................................ ۱۱۹
په افغانستان کې د اسلام ظهور او نفوذ........................................ ۱۲۰
ابو مسلم خراساني ........................................ ۱۲۵
عرب او افغان او پر یو بل یې اغېزې ........................................ ۱۲۹
په مفتوحه افغانستان کې د عربو حکومت ........................................ ۱۳۲
پایله ........................................ ۱۳۷
طاهري امیران........................................ ۱۳۸

د افغانستان صفاري دولت ........................................ ۱٤۰
ساماني واكمنان.............................................. ۱٤٥
غزنوي دولت ............................................... ۱٤۹
د سلجوقيانو نفوذ .......................................... ۱۵۲
غوري دولت ................................................ ۱۵٦
خوارزمشاهي دولت ........................................... ۱۵۹
له لومړۍ نه تر اوومې هجري پېړۍ پورې د افغانستان كلتور او تمدن ..... ۱٦۲
د مغولو، چنگيز او چغتاى يرغل ................................. ۱٦۳
د هرات د كُرت اميران ........................................ ۱۷۰
امير تيمور كورگان او افغانستان ................................ ۱۷٤
د افغانستان د تيموريانو دولت.................................. ۱۷٦
د شيباني او استراخاني نفوذ..................................... ۱۷۸
د صفويانو نفوذ .............................................. ۱۷۹
د بابريانو د دولت نفوذ......................................... ۱۸۰
هوتكي دولت ............................................... ۱۸۲
د هرات ابدالي حكومت ....................................... ۱۸۷
نادر شاه خراساني ............................................ ۱۹۰
ابدالي دولت................................................ ۱۹۳
**دريـــم خپركى ............................................ ۱۹۷**
افغانستان.................................................. ۱۹۷
د محمدزيو دولت ........................................... ۱۹۷
تعليقات ................................................... ۲۰۳
اراتسفن كه اراتوس تنس؟ ...................................... ۲۰۳

رستم څوک و؟ ........................................................ ۲۰۵
ضحاک یا سهاک ........................................................ ۲۰۸
اوروا – Urva ........................................................ ۲۱۲
پارتیان (اشکانیان) ........................................................ ۲۱٤
کُرتان (کورت) ........................................................ ۲۱۹
د کرتانو د نیمه خپلواک حکومت او د مغولو اشغال... ........................ ۲۲۳
انځورونه ........................................................ ۲۲۸

# د ژباړې مرکز يادښت

الحمد لله رب العالمين، والعاقبة للمتقين، والصلاة والسلام على سيد المرسلين، وعلى آله وصحبه أجمعين.

اما بعد:

«افغانستان په يوه نظر» کتاب د «افغانستان به يک نظر» اثر پښتو ژباړه ده، چې د لرغوني افغانستان (آريانا) تاريخ دی. په دې تاريخ کې د آريانا جغرافيه او د آريايانو پر ژوند، کړو وړو، مهاجرتونو، مدنيتونو او ټولنيزو اړيکو او همدارنگه له لرغونې افغانستانه نيولې تر معاصر افغانستان پورې د تاريخ پر بېلابېلو پړاوونو، واکمنانو او د افغانستان پر وضعيت هر اړخيز لنډ بحث شوی او په اړه يې اړين او مهم تاريخي معلومات او پېښې وړاندې شوې دي.

ياد کتاب، ټول درې څپرکي لري؛ چې په لومړي څپرکي کې د آريانا او د آريايانو د ژوند په مختلفو خواوو، لکه د آريانا ويدي مدنيت، ټولنيز ژوند، حکومتولي، کرنه او مالداري، جنگ جگړو، صنعت، عقيده، ژبه، د ښځې مقام او دودونو په اړه معلومات وړاندې شوي، بيا د اوېستايي مدنيت او د ژوند حالات را اخيستل شوي دي، همداسې د بخدي ايراني دولت له تشکيله نيولې د پارداتيانو، کاويانيانو، زردشت، آشوريانو، هخامنشيانو، سکندر او همداسې تر کوشاني دورې او د افغانستان يفتلي دولت پورې د بېلابېلو واکمنو کورنيو په راتگ، دولت جوړونې، جگړو او د ژوند پر مختلفو تاريخو ابعادو او حالاتو بحثونه شوي دي. په دويم څپرکي کې د خراسان او په افغانستان کې د اسلام له ظهور څخه تر ابدالي دولت پورې د ابو مسلم خراساني، افغانستان ته د عربانو

راتګ، د افغانستان صفاري دولت، غزنوي، غوري، خوارزمشاهي دولتونو، د مغل، چینګیز او چغتای یرغلونو، د امیر تیمور کورګان او د صفویانو، بابریانو او هوتکي دولتونو حالات او پېښې وړاندې شوي دي او په درېیم څپرکي کې په ډېره لنډه توګه د افغانستان د محمدزیو دولت او پاچایانو په اړه خبرې او معلومات وړاندې شوي دي.

«افغانستان به یک نظر» د مشهور او پېژندل شوي افغان مؤرخ «میر غلام محمد غبار» اثر دی، چې په پخوانۍ فارسي - دري ژبه لیکل شوی دی، د متن کیفیت یې هم خراب او انشایي ګډوډي لري، چې اخذ ترې ډېر ستونزمن او سخت دی. د کتاب علمي او تاریخي ارزښت ته په کتو د افغانستان د علومو اکاډمۍ د رهبرۍ لهخوا پښتو ته د ژباړې لهپاره وټاکل شو، له همدې پرېکړې له مخې یاد کتاب د ژباړې مرکز علمي غړي او تکړه ژباړن ښاغلي جاوېد آفتاب ته وسپارل شو. د ژباړې له بشپړېدو وروسته د کتاب د بیا کتنې او ارزیابۍ له-پاره تاریخپوه او علمي شخصیت څېړنپوه دوکتور محمد شریف ځدراڼ ته وسپارل شو، چې د هغوی له نظره دا کتاب مثبت ارزیابي شوی دی.

دا چې دغه اثر د تاریخ په برخه کې یو خورا ارزښتناک کتاب ګڼل شوی دی او له ښهمرغه پښتو ژبې ته را وژباړل شو؛ نو دغه تاریخي اثر تاسو قدرمنو لوستونکو او مطالعې خاوندانو ته په علمي – تاریخي څېړنو او مطالعه کې د ګټې اخیستلو په پار په چاپې بڼه خپروو، چې ستاسو علمي تنده خړوبه کړي.

په درنښت

د ژباړې مرکز ریاست

# پر کتاب تبصره

غبار د افغانستان یو وتلی مؤرخ، ادیب، سیاسي او ټولنیز شخصیت و، خو سربېره پر دې یې د افغانستان په تاریخ لیکنه کې خورا مهمه او تلپاتې برخه درلوده، نوموړی د خپل اثر «افغانستان در مسیر تاریخ» د پیشگفتار تر سرلیک لاندې لیکي: «ما تاریخ گذشته کشور خود را برای این مطالعه مینمائیم که اوضاع امروزي خود را صحیحتر درک نمائیم، تا مبارزین جوان افغانستان در حرکت به پیش خط درست اگاهانه اختیار نمایند. زیرا این تاریخ است که سیر تکامل یک جامعه را در روشنایي نشان میدهد.»

بې له شکه تاریخ د ټولنې او طبیعت د پرمختیا او تکامل پروسه ده؛ د ټولنیزو پوهنو (تاریخي علومو) مجموعه ده، چې تېره زمانه له خپل ټول کنکرېټوالي او څو اړخیزوالي سره څېړي. تاریخ د بشریت د ژوند او د هغه د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو اړیکو، پېښو او د هغوی د علت او معلول، د وخت او ځای د څرنگوالي، مطالعې، تحلیل او څېړنې علم دی. په بل عبارت د بشر د بېلابېلو شخصیتونو، قومونو، ولسونو، حکومتونو او دولتونو، ملي او سیاسي تحریکونو د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو فعالیتونو، کارنامو، ناکامیو او بریاوو، تجربو، متقابلو اړیکو او پېښو د مطالعې، تحلیل، تجزیې، څېړنې، پېژندنې، د پوهې او تجربې، د انتقاد او قضاوت، د پند او عبرت درس دی. له همدې امله په هېواد کې تاریخ لیکنه، ژباړه او د ملت بچیانو ته د تاریخ تدریس اړین دی. له تاریخ څخه بې‌خبري هماغسې ستونزې او تېروتنې منځ ته راوړي، لکه چې

د حافظې د نشتوالي پر مهال انسان لـه کومـو سـتونزو او تېروتنـو سره مخـامخ کېږي.

له بلې خـوا هـر افغـان ملـی وجیبـه لـري چـې د خپـل هېـواد او ملـت پـر لرغوني او ګڼ تاریخ باندې تر یوه بریـده وپـوهېږي او دا د بشر- ذاتي او طبیعـي غوښتنه هم ده چې وپوهېږي، زه څوک یم، په کوم قوم، ملت او هېواد پـورې اړه لرم؟ د تاریخ په لوستلو او مطـالعې سره نـه یـوازې د دغـو پوښـتنو او د لسـګونو نورو پوښتنو ځواب تر لاسه کوي، بلکې دا حقیقت هم تر لاسه کوي، چې آریانا، خراسان او افغانستان د یوې لرغونې او واحـدې خـاورې نـه بېلېـدونکي مـلي او تاریخي نومونه او هویتونه دي، د تاریخ په اوږدو کې مو یو وطن، مشترک تـاریخ او فرهنـګ درلـودل. د دغـو ټولـو مـلي او اسـلامي ارزښـتونو پېژنـدل، د تـاریخ لیکنې، څېړنې، تحلیل او مطالعې له لارې میسر دي او بایـد پـه یـاد ولـرو چـې تاریخ د ملت ملي او سیاسي شعور روزي او په ملت کې د یووالي، هېواد پالنې، بشر دوستۍ او ورورولۍ لوړه ملي روحیه روزي. دغه ټول مـلي ارزښـتونه بـې لـه شکه زموږ د ملت د بقا او پرمختیا، سـوکالۍ او نېکمرغـۍ، د مـلي ګټـو او مـلي هویت د ساتلو ضامن دي.

زما په باور د افغانانو تاریخ د آریانـا، خراسـان او افغانسـتان پـر لرغـونې او تـاریخي خـاوره بانـدې د څـو زره کلـن ګـڼ ژونـد او فعالیـت، د هېـواد پـالنې، سرښندنو، د بریـاوو او ناکـامیو، د فرهنګـي او تمـدني پنځـونـو، زده کـړو، پنـد او عبرت، د ملت د بقـا، یـووالي، د ودې او پرمختیـا ژوره او څـو اړخیـزه کیسـه ده، چې د هېواد نومیالي مؤرخ او لیکوال ښـاغلي غبـار پـه یـوه کـوچني کتـابګوټي کې په ډېر لوړ علمي انداز پنځولې او بیان کړې ده. دا د تاریخ کتـابګوټی چـې

د لویو تاریخي آثارو په جمله کې د معنا او منځپانګې په لحاظ د زیات علمي او تاریخي اهمیت وړ دی او په ۱۳۲۶ش. کال کې چاپ شوی دی؛ خو اوس په سختۍ سره پیدا کېږي او بل دا چې زموږ په ملي دري ژبه کښل شوی او د هېواد زیاتره پښتو ژبي ځوانان سم نه پرې پوهېږي. د دغو اړتیاوو په پام کې نیولو سره د افغانستان د علومو اکاډمي د ژباړې ریاست پرېکړه وکړه چې نوموړی کتاب ښاغلی جاوید آفتاب پښتو ته وژباړي.

مخکې له دې چې د آفتاب صاحب د ژباړې پر ځانګړتیاوو وغږېږم، غواړم د ژباړې عمومي اهمیت په څو کرښو کې بیان کړم.

ژباړه په عمومي ډول د هر هېواد او په ځانګړې توګه د وروسته پاتې هېوادونو لپاره علومو ته د لاس رسي ډېره لنډه او ګټور لار ده. ژباړه نه یوازې لنډه او ګټوره لار ده، بلکې د هېوادونو او ملتونو تر منځ د علمي او فرهنګي ارزښتونو د لېږد خورا ښه وسیله ګڼل کېږي، په علمي او فرهنګي لحاظ ملتونه او هېوادونه سره نږدې کوي.

د نړۍ پوهان د ژباړې د اهمیت د بیان په ترڅ کې دا حقیقت هم مني چې ژباړه د علمي او څېړنیزو لیکنو په نسبت سخته ده؛ ځکه که لیکنه یوه ژبه غواړي، ژباړن باید په دوو ژبو وپوهېږي. دغه راز نور دلایل هم شته، خو په دغه لیکنه کې اوږد بحث ته اړتیا او اجازه نه‌شته.

خپلې اصلي موضوع ته راګرځو او هغه دا چې د مشهور او تکړه مؤرخ ښاغلي غبار د دې اثر ژباړه یو پر ځای کار ګڼم. پښتو ژباړه یې هم خورا علمي، ادبي او روانه ده. ځوان ژباړن آفتاب چې له یوې خوا پښتو ادبیات په پوهنتون کې لوستلي او د بلې خوا یې لا ډېر پخوا په ژباړو پیل کړی. په دې برخه کې د

تجربې څښتن دی، ژباړه یې خورا معیاري ده. هیله کوم چې نوموړی اثر ډېر ژر د علمي ګټې اخیستنې لپاره چاپ شي. تاسو محترم مقام ته یې له دې لیکلي نظر سره مل د وروستیو کړنو لپاره در استوم.

په درنښت

څېړنپوه دکتور محمد شریف ځدراڼ

د تاریخ او اتنوګرافۍ انستیتوت مشر

# د ژباړن خبرې

یوه کم‌لوستې ځوانه ښځه، چې فکري مسایلو په اړه بې‌تفاوته وه، یوه ورځ په تصادفي ډول د پوهانو او دانشمندانو غونډې ته ورغله. په دې غونډه کې له یادې ښځې پرته نور ټول تاریخ پوهان او تاریخي مسایلو ته لېواله خلک را ټول شوي وو. په غونډه کې د روم امپراتورانو پر ژوند، عیبونو، کمزوریو او په ټوله کې د هغوی پر پېښو او تراژېدیو بحث روان و. دغو بحثونو ته د ښځې حوصله او زړه تنګ شو، د تېرو دورو د انسانانو عجیب او غریب نومونه، کړه وړه او پېښې هغې ته هېڅ معنا او ارزښت نه درلود. ښځه یو څو شېبې نوره هم خبرو ته غوږ وه، بیا یې په ډېر معصومانه انداز سره پوښتنې پیل کړې، چې دا ډېر بد خلک وو، همداسې نه ده؟ ټولو ځواب ورکړ، هو! همداسې ده. ښځې بیا پوښتنه وکړه: دا ټول اوس مړه دي، کنه؟ مؤرخینو په بې‌تفاوتۍ سره ځواب ورکړ، چې هو! د دوی له مړینې خو مودې وتې دي. ښځې ورته وویل، ښه! چې داسې ده، نو بیا په کوم دلیل موږ خپل دماغ، انرژي او وخت پر مړو ضایع کوو؟

ښځې غوښتل په دې ډول پوښتنو سره د مؤرخینو دا ستړې کوونکې بحث پای ته ورسوي؛ خو اصل کې نوموړې مؤرخینو ته د مسایلو داسې دروازې پرانستې چې له دې مخکې هغوی پرې فکر نه و کړی. دغه ځوانه ښځه په دې نه پوهېده چې تاریخ یوازې د ښو او بدو رجالو او اتلانو د اتلولۍ او بدۍ کیسې نه دي، بلکې د یوه ملت یا قوم ټول هویت، کلتور،

سیاست، اقتصاد، جغرافیه، فولکلور او لـه نـورو ملتونـو سره یـې اړیکـې او معاملې د تاریخ په پاڼو کې خوندي وي.

تاریخ موږ پـه تېـرو زمـانو کـې د بېلابېلـو پېښـو پـه اړه خـبروي او پـه راتلونکې کې د بیا پېښېدو په اړه ممکنه لارښونه راته کوي، تـاریخ یـوازې انسان پېژندنه او د هغوی کـړو وړو پـه اړه پوهېـدل نـه دي، بلکـې د تېـرو بشري ټولنـو - ملتونـو پـورې اړونـد ټـول مسـایل، لکـه اقتصـاد، سیاسـت، کلتورونو، دینونو، تمدنونو، مدنیتونو، قومونو، د بېلابېلو اقشـارو او متلونـو تر منځ اړیکو او باورونو، پېښو او شخړو، جغرافیو، د اتلانو ویاړنو او کارنامو په اړه مو خبروي او خپل دوست او دښمن را پېژني. ډېرې عصري پوهې د تاریخ د مطالعې په پایله کې را منځ تـه شـوي دي او د تـاریخ مطالعـه پـه انسان کې سیاسي بصـیرت، پوهـه او شـعور را پـاروي او پوخـوالي تـه یـې رسوي.

«افغانستان به یـک نظـر» اثـر د مشـهور او پېژنـدلي افغـان مـؤرخ میـر غـلام محمد غبار یو باارزښته او مهم اثر دی، چې ما پښتو ته «افغانسـتان پـه یـوه نظـر» په نامه د ژباړې د اصولو او خپلو تجربو په رڼا کـې را وژبـاړه. دا کتـاب لـه لرغـوني دورې نه تر معاصرې دورې پورې د افغانستان لنډ تـاریخ دی، چـې هغـه وخـت د افغانستان او افغان پر ځای پر آریانا او آریایانو یادیدو. که د هغـه وخـت تـاریخ مـو نه درلودای یا خوندي نه وای؛ نو نن به مو څنګه ځان آریایـان او د آریانـا «لرغـوني افغانستان» اصلي اوسـېدونکي ګڼـل؟ او همدارنګـه لـه هغـه وختـه تـر ننـه پـورې څنګه په خپلو تاریخي پېښو، مسایلو، فرهنګ، د اسلام راتګ او نـورو ډېـرو کیسـو پـه اړه پـوه شـوي وای؟ چـې دا ټـول تـاریخي مسـایل او معلومـات د نـورو

ګڼو تاريخونو تر څنګ د ښاغلي غبار په ياد اثر کې هم ډېر ښه په لنډ ډول وړاندې شوي دي، چې نن هم تاريخ څېړونکو او د مطالعې خاوندانو ته يوه غوره منبع ده.

دا اثر په دري ژبه ليکل شوی او په ۱۳۲۶هـ.ش کال کې د پښتو ټولنې لهخوا پر زېړ رنګه کاغذ په پخواني ټايپ کښل شوی دی، چې ليکدود او انشاء يې ځېنې ستونزې لري، حتا دري ژبو لوستونکو ته يې هم لوستل اسانه نه دي او دا اثر اوس په عامه کتابپلورنځيو کې نه پيدا کېږي. که چېرې په دري ژبه هم له سره ټايپ او له تعليقاتو او لغوي پانګې په ور زياتولو سره بيا چاپ شي، ډېر به ښه شي.

پر کتاب د ليکوال خپله سريزه يا کوم يادښت نشته او نېغ له لومړي څپرکي پېل شوی دی. پخوانی ليکدود، د ليکنښو ناسمه کارونه، انشايي ګډوډي او د کلمو او تورو تر منځ د واټن نه مراعت، هغه ستونزې وې چې د ژباړې پر مهال ورسره مخ وم، په دې برخه کې مې د کتاب له دوو بېلابېلو نسخو څخه ګټه اخيستې او تر څنګ مې د علومو اکاډمۍ د تاريخ او اتنوګرافۍ څانګې مشر څېړنپو دوکتور محمد شريف ځدراڼ او قدرمن همکار محمد امين مدقق ارغاني مشورې او نظرونه اخيستي دي، چې د ليکوال ژبې او مفهوم په لېږد کې له تېروتنې څخه ځان وساتم او د همدې ډاډ په خاطر مو پښتو ژباړه د بياکتنې او ابډېټ لهپاره دوکتور صاحب ځدراڼ ته وسپارله، چې نوموړي په ډېره مينه له نظره تېره کړه او د ځينو موضوعاتو د تصحيح او لا روښانتيا لهپاره يې پرې خپل نظر او تعليقات هم وليکل، چې زه له دوکتور ځدراڼ څخه ډېر مننه او د اوږد او

ښه ژوند دعا لاسونه ورته لپه کوم.

خدای دې وکړي چې دغه پښتو ښه يې ستاسو درنو لوستونکو د پام وړ وګرځي او که کومې تېروتنې ته مو پام شو، هيله ده راسره شريکه يې کړئ.

درنښت

جاويد آفتاب

د علومو اکاډمي

۱۴۰۲ - ۰۲ - ۲۴